لیکوال: ترتیب کوونکی د دې مرکې محمد ایاز نوري تاریخ ۱۸/۰۸/۲۰۰۸

# د افغانستان د خپلواکی د ۸۹ کلیزې په مناسبت د مرحوم اعلیحضرت غازی امان الله د زوی پاچا زوی ډاکټر احسان الله خان د مبارکې پیغام

**د لوی خدای په نوم**

زما ګرانو وطنوالو افغانانو خویندو او ورڼو!

خپل او د خپلې کورنۍ د هر غړي بهترین سلامونه او تودې مبارکۍ د هیواد د خپلواکی د ۸۹ کالیزی په مناسبت تاسو هر یوه حضور ته رسوم.زما لویه ارزو وه چې دا مهمه او تاریخی ورځ تاسو سره له نژدی ولمانځم لیکن قسمت نه وه...!. مګرله بلی خوا ډیر خوښ یم چی افغانی ملګرو دا امکان ماته برابر کړچی تاسو او ستاسو ټولو درنو کورنیو ته د امانی اسقلال په یاد مبارکی عرض کړم. په دې مهمه ورځ می غوښتل له هغو کسانو یاد وکړم چی د خپلواکۍ د استرداد په لاره کې شهیدان شویدي ځکه په دې مسله کی مونږ د هغوی پوروړي یو. خبرې او یاد د آزادۍ او اعلیحضرت مرحوم امان الله خان څخه په دا پخپله یوه عظیمه مسله ده. سره له دی چی د افغانستان پخوانیو حکومتونو تر ۱۹۶۵ میلادی کال پورې غوښتل زما د پلار نوم او کارنامی له منځه یوسی مګر سره د دې هم د هغه غازی نوم د هر افغان وګړی په زړه کی ژوندی وه او یقین لرم د هغه غازی پاچا نوم به د افغان ولس په ذهن کی تل پاتی او نه هیریدونکی وي.



کوم وخت چی امان الله خان د بادشاهۍ پر تخت کشیناست وې ویل: زه غواړم د یوه مستقل هیواد مشر او پاچا او سم او په دې عین کی یی خپله توره له پوښه راویسته او وې ویل:
تر څو افغنستان په پشپړه توګه له غاصب څخه آزاد نه کړم دا توره به بیرته په پوښ کی نه کړم او خپله وینا یی داسی ختمه کړله: **افغانستان د افغانانو لپاره...!!.** او وریسې یی د ۱۹۱۹ میلادی کال د فروری په ۲۱ د بشپړ استقلال اعلان وکړ. لیکن د انګریز دولت هغه ونه مانه. وریسی پاچا انګریز ته د جګړې اعلان ورکړ. او پس له اوږدو خبرو اترو انګریز دولت د ۱۹۱۹ کال د اګست په ۱۸ نیټه د ګران هیواد مکمل استقلال تضدیق کړ. ټولو افغانانو او د مختلفو طبقو خلکو او ملایانو د امان الله خان دا عمل تقدیر کړ. زما پلار د بادشاهۍ مقام ته د رسیدو څخه پس داسی وویل:
زمونږ په هیواد کی مختلف قامونه لکه پښتانه، تاجک، ازبک او هزاره ګان اوسیږي او ټول یو ورور ملت او ټول افغانانو یو... لیکن په افسوس سره چې اوس افغانانو دا خبره هیره کړې او په خپل منځ کی جګړې کوی، یو ورور بل ورور وژنی...؟!.
زما ګرانو افغانانو! د افغانستان راتلونکې د ځوانانو او ړوندانډو په لاس کی ده. زه دلته بیا د غازی امان الله خان خبره تاسو ته یادوم کوم وخت یی چی افغان زده کوونکی مخاطب ول: زه شخصا پر تاسو حساب کوم ځکه چی تاسو ځوانان د هیواد د جوړونې تیران یاست!.په ټوله نړۍ کی یو کوچنۍ شمیر ځوانان نور وګړی ځان پسی رهبری کوی او شه ژوند ځانونو ته جوړوي... .
زما آرزو هم ورته د خپل پلارمی ده چی د افغانستان ځوان نسل زما د پلار او زما د مور ملکې صرایا مترقی پروګرامونو ته دوام ورکړي.
افغان ځوانانو! که په هیواد کی یاست که بهر، د وطن مینه تل په خپلو زړونو کی وساتۍ لکه زه چی ټول ژوند د هیواد د اوسیدو څخه محروم او بی برخی وم، لیکن تل او هر وخت وطن پال وم. کوم وخت چی زه د په ۱۹۹۴ میلادی کال کی د سولی د یوه مجلس لپاره چی والی صاحب اسماعیل خان د هرات په ښار کی جوړ کړۍ وه، خپل هیواد ته ولاړم، په رشتیا ما حس وکړ چی خپل وطن یعنی څه!! د هیواد هوا می تنفس کړه، د خپلو وطنوالو سره یو ځای کیدل ما باندی یی لوی تاثیر غوزلۍ وه او متحسس وم او احساسات می راپاریدل. زما په یاد دي چی زما پلار اعلیحضرت غازی امان الله خان د ژوند په وروستیو سلګیو کی د هیواد په فکر کی وه او هغه بالکل وروستی د ژوند الفاظ یی چی ویل یی:


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

**اې زما خدايا...!! اې کابله...! اې پغمانه...!! اې افغانستانه...!! اې زما د وطن خاورو...!! او ورپسی يی سترګی ورباندې پټي کړې او نور هغه غازی ميړنی خپل لوی خالق ته حاضر شوی وه...؟!.**
ګرانو افغانانو! يو ځل بيا تاسو ته د زړه د کومي د دې تاريخی ورځی مبارکی وايم.

څښتن تعالی دې ستاسو يار اووسي.

ژوندی دې وي د افغانستان ملت
ژوندی دې وي د خدای بخښلی غازي اعليحضرت امان الله خان نوم

پاچا زوی ډاکتر احسان الله خان د افغانستان
جينواء- سويسزرلند، اګست ۲۰۰۸ کال

# بيام والاحضرت شهزاده داكتر احسان الله خان بسر اعليحضرت امان الله خان غازي به مناسبت ۸۹ سالكرد استقلال كشور ما افغانستان عزيز

**بنام خداوند توانا**

هموطنان عزيز خواهران و برادران كرامي ام:

بهترين سلام هاي خود و تمام اعضا فاميل ما را به حضور هر يك شما تقديم مينمايم. ارزوي بزرك ام بود كه به اين روز مهم وتاريخي نزديك شما باشم مكر قسمت نشد. اما بسيار خوش شدم كه برايم فرصت و امكان داده شد كه براي همه شما و فاميل هاي تان از صميم قلب از طرف خود و فاميل اماني تبريك روز استرداد استقلال وطن عزيز ما را عرض كنم.




درين روز مهم ميخواستم از كساني ياد كنم كه در راه بدست اوردن ازادي كشور شهيد شده اند.ما نبايد انها را فراموش كنيم جونكه در بدست اوردن ازادي و استقلال خود ما مديون ايشان ميباشيم. صحبت از استقلال و ازادي وطن و اعليحضرت امان الله خان غازي امر خيلي بزرك است. با وجوديكه حكومت هاي كدشته افغان تا سال ۱۹٦٥ نام بدر من اعيحضرت امان الله خان غازي راميخواستند از بين ببرند مكر با ان هم نام او در قلب هر افغان زنده بود. و يقين دارم كه نام ان مرد غازي هيج وقت در دهن ملت افغان فراموش نمي شود.
وقتيكه امان الله خان به تخت شاهي نشست كفت: من ميخواهم بادشاه ازاد در يك كشور مستقل باشم و شمشير خود را از غلاف كشيد و كفت تا افغانستان را كاملا ازاد نه كنم اين شمشير را در غلاف نخواهم كرد و كفتار خود را به اين كلمات به بايان رسانيد:
**افغانستان براي افغان ها!!** و به تاريخ ۲۱ فبروري سال ۱۹۱۹ استقلال كامل افغانستان را اعلان كرد. اما دولت انكليس انرا قبول نكرد. كه بعدا به تاريخ ۷ مي شاه غازي جنك را با انكليس ها شروع كرد.بعد از مذاكرات طولاني بتاريخ ۱۸ اكست سال ۱۹۱۹ دولت انكستان استقلال كشور ما را


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

تضديق كرد. همه افغانها ملا ها و مردم همه طبقات ازين عمل امان الله خان راضي شدند.  بدرم امان الله خان غازي بعد از رسيدن به مقام بادشاهي كفت:
اقوام مختلف در كشور ما زندكي ميكنند بشتون تاجك ازبك هزاره اما تماما يك ملت برادر و كل ما افغان هستيم. بدبختانه حالا افغان ها اين حرف را فراموش كرده اند و بين خود شان هنوز ميجنكند. برادر برادر را ميكشد...؟!.
افغان هاي عزيزم: اينده افغانستان در دست روشنفكران و جوانان است باز هم كب امان الله خان غازي را ياد ميكنم وقتيكه به شاكردان افغان كفت:
من شخصا بالاي شما حساب ميكنم جون كه شما جوان ها ستون هاي اينده ساختمان افغانستان هستيد. در تمام دنيا يك عده كوجك از جوانان روشن بقيه مردم را با خود برده و زندكي خوبي را درست كرده اند.
ارزوي من مثل بدرم اين است كه نسل جوان افغانستان تمام بروكرام هاي را كه اعليحضرت غازي و مادرم ملكه مرحومه صرايا اساس كداشته بودند دوام بدهند.
جوانان افغان: اكر در خارج هستيد جه در داخل وطن هميشه عشق كشور را در قلب تان داشته باشيد. مثل كه من در تمام زندكي ام از وطن دور بودم اما هر وقت وطن دوست بودم. وقتيكه در سال ١٩٩٤ براي يك مجلس بزرك به داخل وطنم به شهر هرات كه والي صاحب اسماعيل خان تشكيل كرده بود رفتم راستي حس كردم كه وطن جه است...!؟. تنفس هوا وطن كردم يك جا شدن با هموطنان ام خيلي بالايم تاثير كرد و مرا متحسس ساخت و احساسات ام اوج كرد. به ياد دارم كه شخص بدرم اعليحضرت امان الله خان تا ثانيه اخر عمر فكر وطن ميكرد و الفاظ اخر كه ميكفت اين بود:
**...!! و بعدا جشمان اش را بسته كردند و ديكر ان مرد           يا خداوند ام يا كابل يا بغمان يا افغانستان يا خاك وطن ام غازي نزد خدايش حاضر شده بود.**
افغان هاي كرامي: باز هم از صميم قلب اين روز تاريخي را به شما مبارك ميكويم.

خداوند  با همه تان يار باشد

زنده باد ملت افغانستان
زنده باد نام اعليحضرت مرحوم امان الله خان غازي

شهزاده داكتر احسان الله خان
جينوا- سويسزرلند اكست ٢٠٠٨